| | |
|---|---|
| فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا<br>د نشر نيټه : ۲۳ جولای ۲۰۱۳ ميلادی |  |

# د رفيق « مهران » او فريد احمد « تسکين »
# طرحي مشاعره

ستا له سترګو را څڅيږم
محبت يمه خوځيږم
تسکين

ستا راتګ ته ډېر خوشال يم
په جامو کې نه ځاېږم
مهران

زه به هم درځيني لاړشم
قافله يمه تيرېږم
تسکين

په خونکار نظر دې ويشتی
نه مرکيږم نه رغيږم
مهران

خوب مې نه راځي ليمو ته
سبا يارته روانيږم
تسکين

دی زما په زړه کې تل وي
زه هغه ته نه یادیږم
مهران

زه د خپل وجود سایه یم
زیری لمر یم فناکیږم
تسکین

له غروره ښخه ډکې
په مړو سترګو درغږیږم
مهران

چې ستا نوم څوک راته یاد کړي
لکه ګل هسې غوړیږم
تسکین

عجیبه مرض لرمه
لاس دې رانه وړي تخنیږم
مهران

په سلګو یمه رپیږم
چې له تانه روانیږم
تسکین

هیڅوک نشته چې لاس راکړي
په قدم ـ قدم کې لویږم
مهران

پکتیا ـ اتفاق مینه
د فرید احمد «تسکین» حجره
۲۸/۴/۱۳۹۲ چنګاښ
د شپې یوولس بجې

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org